# د شیطان جالونه

23 July 2026

(For Islamic Brothers)

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

پهٔ 23 جولائي، کال 2026ء (8 صفر شرېف، کال 1448ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو
اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د شیطان جالونه

(د انسان د ازلي دښمن شیطان د چلونو پهٔ ګوته کولو او د هغې نه د بچ کیدو د طریقو بیان
پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- 200 کاله عبادت
- دشیطان خبیث ضد
- ګناه یاد ساتل عبادت دے
- د شېطان نه د بچ کېدو روحاني عِلاج

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک اخرِي نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اے خلقو! بے شکه د قيامت په ورځ به د هغې د وحشتونو (يعني د وېرو) او د حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے هغه وي، چا چې په ما باندې په دُنيا کښې ډېر درود وئيلے وي۔ (1)

| | |
|---|---|
| دولت جو چاہو دونوں جہاں کی | کر لو وظیفہ نامِ مُحَمَّد |
| روزِ قیامت میزان و پُل پر | دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد |
| پوچھے گا مولیٰ لایا ہے کیا کیا | میں یہ کہوں گا نامِ مُحَمَّد (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اورېدلو نيتونه

1…مسند فردوس، جلد:5، صفحہ:277، حدیث:8175۔
2…قبالۂ بخشش، صفحہ:133 تا 135 ملتقطاً۔

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔[1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اورېدو نه مخکښې څهٔ ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښېنم ❁ ښه پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د 200 کالو عبادت

**پهٔ کتابونو کښې لیکلے شوي دي چې:** بَرصِیصَا نومې یو عبادت ګزار وو، **الله** پاک هغهٔ ته ډېر عمر عطا کړے وو او دے به د خلقو نه ځانله اوسېدو او د **الله** پاک عبادت به یې کولو، دهٔ دوه سوه کاله داسې تېر کړل چې د لږ ساعت د پاره یې هم څهٔ ګناه اونکړه۔

تاسو د هغهٔ لږه د اِستقامت اندازه ولګوئ چې دوه سوه کاله--!! اوس خو نارمل د 60 نه 70 کاله پورې ایوریج (*Average*) عمر دے او پهٔ دې مختصر ژوند کښې دوه، څلور، لس، دولس نهٔ بلکې هره ورځ کېدے شي چې پهٔ سوؤنو ګناهونه کیږي۔ د هُغه ګس اِستقامت ته وګورئ چې هغهٔ دوه سوه کاله یعنې پوره دوه صدۍ بغیر د ګناه کولو، نه صرف پهٔ عبادت کښې تېرې کړې۔

خو افسوس چې د **الله** پاک پټ تدبیر پهٔ هغهٔ باندې غالب راغلو او بَرصِیصَا خپل محنت ضائع کړو او د دوزخ حقدار جوړ شو او د دُنیا نه رُخصت شو۔

---

[1] ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

## پهٔ بَر صِيصَا باندې شېطاني جال

**واقعه څهٔ داسې وشوه** چې يو ځل شېطان د اِنسان پهٔ شکل کښې د بَرصِيصَا خوا له راغلو او د هغهٔ د عبادت خانې‌چرته چې به دے پاتې کېدو او عبادت به يـې کولو، د هغې نه بهر ودرېدو او دهٔ ته يې اواز اوکړو، بَر صِيصا ووئيل: څوک چې د **اللّٰه** پاک عبادت کول غواړي، هغهٔ ته د دوست ضرورت نهٔ وي- د بَر صِيصا جواب يـې چې واورېدو نو شېطان د هغهٔ د عبادت خانې مخې ته دِېره شو-

اوس د دې بد بخته د دوکه کولو انداز ته وګورئ! شېطان خبيث درې ورځې د هغهٔ د عبادت خانې نه بهر پرله پسې عبادت اوکړو، پهٔ دغه وخت کښې دے نهٔ اودهٔ کېدو او نهٔ يـې څهٔ خوراک څښاک کولو- دے پهٔ اِنساني شکل کښې وو او بَر صِيصا هم دے اِنسان ګڼلو، نو هغه چې د دهٔ عبادت وليدو نو ډېر زيات متاثره شو، بَر صِيصا پوښتننه اوکړه: زما دوه سوه کاله وشو چې عبادت کووم خو ما ته د اوسه پورې دا مرتبه حاصله نهٔ شوه، ما ته د اودهٔ کېدو هم ضرورت وي، د خوراک څښاک هم محتاج يم، (کاش چې ما هم ستا پهٔ شان عبادت کولے شوے---!! ستا دا مرتبه څنګه نصيب شوه؟)

شېطان ووئيل: پهٔ اصل کښې خبره دا ده چې زما نه يوه ګناه شوې وه، چې کله ما ته هغه ګناه راياديږي نو زما حالت بدل شي ، بيا زهٔ نهٔ وږے کېږم او نهٔ تږے کېږم، او نهٔ راله خوب راځي- تا څهٔ ګناه نهٔ ده کړې ځکه ستا دا حالت نهٔ دے، که تهٔ چرې زما پهٔ شان جوړېدل غواړې نو يوه ګناه اوکړه، بيا به پهٔ تا باندې د **اللّٰه** پاک وېره غالبه کيږي او تهٔ به هم زما پهٔ شان بغير د خورک څښاک نه پرله پسې عبادت کولے شې-

## د ګناه اَنجام هم ګناه وي

تاسو لږ د شېطان خبيث پهٔ چل باندې غور اوکړئ چې څومره بد بخته او چالاک دے، هغه وړومبے بَرصِيصا پهٔ دوستۍ کښې بے لارې کول غوښتل، کله چې خبرې سمون

وه نۀ خوړو نو د عبادت ګزارۍ ډرامه یـې جوړه کړه او جال ته یـې وګورئ چې څنګه یـې اچوي: بَرصِیصَا! که لوئي او ډېر ماهره عبادت ګزاره جوړېدل غواړې نو ګناه اوکړه---!!

دلته د شېطان پۀ دې باطِله تهیورۍ (***Erroneous theory***) باندې ځان پوهه کړئ! هغۀ دا وئیل غوښتل چې **بَرصِیصَا! د ګناه اَنجام به دا وي چې تا ته به د اللّٰه پاک نه د وېرې او خَشِیَّت او د نېکۍ توفیق نصیب شي**- خو یاد ساتئ چې دا تهیوري د سره نه غلطه ده- دا خبره پۀ ذِهن کښې کښېنوئ چې دلته هم شېطان خلقو ته دا وسوسې وراچوي چې اوس ګناه اوکړه بیا به وروستو نېکۍ شروع کړې، څومره داسې خلق دي کوم چې وائي: مونږ به د سبا نه نـمونځ شروع کوو- یعني نن به نـمونځ قضا کړم، ګناه به اوکړم، د دې پۀ نتیجه کښې به سبا ما ته د نـمونځ کولو توفیق نصیب شي، حالانکې داسې نۀ کیږي **د ګناه اَنجام نېکي نۀ وي، هلاکت وي- اللّٰه** پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاَهۡلَكۡنٰهُمۡ بِذُنُوۡبِهِمۡ<br>(پاره:7، سورۀ انعام:6) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بیا مو د هغوئي د ګناهونو پۀ وجه هغوئي هلاک کړل- |

یعني مخکښې چې څومره قومونه هلاک شول، هغوئي هلاکت ته رسوونکے څیز ګناه وه- معلومه شوه چې داسې نۀ کیږي چې څوک به ګناه کوي نو پۀ نتیجه کښې به د هغۀ د عبادت توفیق نصیب کیږي بلکې د ګناه اَنجام هلاکت وي- چا ډېره ښکلې خبره کړې وه: د ګناه مثال داسې دے لکه چې اِنسان د غر نه ښکته راکوزیږي، یعني د غر نه ښکته د راکوزېدو پۀ وخت چې یو قدم واخلي نو دوېم پخپله اخستے کیږي، داسې چې اِنسان یوه ګناه اوکړي نو نفسِ اَمَّاره [یعني پۀ ګناهونو باندې راپاروونکے نفس] او شېطان یې د نورو ګناهونو طرف ته بوځي- هم دا د هُغه شېطان سازش وو کوم چې دغه خبیث د بَرصِیصَا سره اوکړو، وه یـې وئیل: بَرصِیصَا! **که ښۀ او ماهره عبادت ګزار جوړېدل غواړې نو ګناه اوکړه---!!**

## بَرصِيصَا پهٔ جال کښې راګېر شو

بَرصِيصا ووئيل: ما چې د کوم رَبِّ کريم دومره عبادت کړے دے، اوس زهٔ د هغهٔ نافرمانۍ څنګه کولے شم؟ شيطان ووئيل: اِنسان چې کله ګناه اوکړي نو د معذرت طرف ته ځي (د **اللّٰه** پاک نه وېرېدل او د هغهٔ د بخښنې سوالي جوړېدل دي، لهٰذا د داسې حالت موندلو د پاره به تا ته ګناه کول وي)-

د شيطان دا خبره چې يې واورېده نو بَر صِيصا تېر وتو او وه يې وئيل: ښه ووايه کومه ګناه اوکړم؟ ❀ شيطان ووئيل: زِنا اوکړه! بَر صِيصا انکار اوکړو- ❀ شيطان ووئيل: خوک مړ کړه! بَرصِيصا پهٔ دې هم راضي نهٔ شو- ❀ شيطان ووئيل: څه بيا شراب وڅښه! پهٔ دې باندې بَرصِيصا راضي شو- هغهٔ شراب واخستل، هغه يې وڅښل او نشه شو، د نشې پهٔ حالت کښې هغهٔ زنا هم اوکړه او د ناحقه قتل ګناه يې هم اوکړه- چې کله هغه دومره غټ جرمونه اوکړل نو هغه اونيولے شو، هغهٔ ته پهٔ دار د خېژولو سزا واورولے شوه، چې کله هغه د پهانسۍ تختې ته وخېژولے شو نو بيا شيطان د هغهٔ خوا له ورغلو او وه يې وئيل: تا زهٔ بچ کولے شم، بس زما يوه خبره اومنه! د **اللّٰه** پاک نه اِنکار اوکړه او ما ته سجده اوکړه! آه! 200 کاله د ګناهونو نه بچ کېدونکے عبادت ګزار بَرصِيصا د شيطان پهٔ جال کښې **راګېر شو او هغهٔ شيطان ته سجده اوکړه، چې څنګه هغهٔ دا کُفر اوکړو، هم هُغه وخت هغه له مرګ راغلے او دا بد بخته د ايمان نه خلاص شو او د دنيا نه مُرتد لاړو--!!** (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د وېرې مقام دے، آه! د وېرې خبره ده، چې 200 کاله پهٔ عبادت کښې د تېرونکي، د يوې ګناه هم نهٔ کوونکي داسې خطرناک انجام شو نو مونږ چې ګنهګاران يو، زمونږ نه شپه ورځ پته نهٔ لګي چې کوم کوم ګناهونه کيږي، مونږ د خپل انجام نه بے فِکره څنګه پاتې کېدے شو--!!

---

[1] ... سلوۃ العارفين، باب الخوف سوء الخاتمہ، جلد:2، صفحہ:166-168-

مجھے ایسے عمل کی دے توفیق | کہ ہو راضی تری رضا یاربّ!
جس نے اپنے لئے برائی کی | ہے یہ نادان وہ برا یاربّ!
تو حسَنّ کو اٹھا حسن کر کے | ہو مع الخیر خاتمہ یارب!( 1 )

## خُدایه! د خرابې خاتمې نه مو بچ کړې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د بَرصیصَا عبرتناکه واقعه واورېدله، په دې واقعه کښې ❁ د شرابو د بدی هم سبق دے چې بَرصیصَا شراب وړه ګناه وګڼله خو د دې په خباثت سره په قتل او بدکارۍ کښې هم اخته شو، معلومه شوه چې شراب څۀ وړه ګناه نۀ ده، بلکې د حدیثِ پاک مطابق شراب اُمُّ الخَبَائِث (یعني د ګناهونو جرړه) ده(2) ❁ داسې په دې واقعه کښې زمونږ د پاره د الله پاک د پټ تدبیر نه د وېرېدو هم دَرس دے، آه! څومره د عبرت خبره ده چې 200 کاله د ګناهونو کولو نه بغیر صرف او صرف په عبادت کښې مصروفه اوسېدونکے ګس اخر په کُفر کښې اخته شو او غیر مسلمه د دُنیا نه لاړو۔ سوچ اوکړئ چې د دومره لوئي عبادت ګزار اَنجام داسې شو نو مونږ د خپلې خرابې خاتمې نه بے فِکره کېدے څنګه شو، بس مونږ له هر وخت فِکر مند اوسېدل پکار دي چې الله پاک مو ښه خاتِمه نصیب کړي۔ کاش چې د دُنیا نه د تللو په وخت مو کلمه طیبه وئیل نصیب شي۔

خدایا بُرے خاتمے سے بچانا | پڑھوں کلمہ جب نکلے دَم یااِلٰہی!( 3 )

## د شیطان خبیث ضد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د بَرصِیصَا په واقعه باندې لږ نور غور اوکړئ! شیطان

---

1...ذوقِ نعت، صفحہ:85-87ملتقطاً۔
2...معجم اوسط، جلد:2، صفحہ:406، حدیث:3667۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:110۔

بد بخته خومره خبيث دے، دا ورومبے د دوست په شکل کښې راغلو، بَرصِيصَا هغه ورتلو- خو دے د ذليله کېدو باوجود د خپل مِشن نه پشا نهٔ شو بلکې د مخکښې نه زيات کلک ودرېدو، د بَرصِيصَا د عبادت خانې مخې ته يې درې ورځې او درې شپې بغېر د اودهٔ کېدو، بغېر د سترې کېدو، بغېر د څهٔ خوړلو څکلو نه مسلسل عبادت کولو-

تاسو د دې بد بخته په ضد باندې لږ غور اوکړئ! دا دومره خبيثه دښمن دے، چې خومره هم دا ذليله کړے شي، بيا هم په اِنسان پسې ورپسې وي، ورپسې وي، وسوسې وراچوي، کوششونه کوي، چې يوه وسوسه ختمه کړې، دوېمه ختمه کړې نو درېمه اچوي، که دے ذليله کړے شي اَعُوْذُبِاللّٰه ولولې او وه يې سېزې! لَاحَوْل شريف ولولې او په مخه يې کړې! خو دا دومره بے حيا دے چې نهٔ وروستو کيږي- د دې پورې چې په کتابونو کښې ليکلے شوي دي: چې کله اِنسان قبر ته کوز کړے شي نو شيطان هم د مړي سره کوز شي، هلته هم د منکر نکير د سوالونو په جوابونو ورکولو کښې د دوکه کولو کوشش کوي-[1]

## زمونږه عجيبه بهانې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! يو اړخ ته زمونږ ډېر خبيث دښمن داسې ضد کوي او بل اړخ ته زمونږ حال ته نظر اوکړئ: ❀ په معاشره کښې به ډېر داسې خلق مېلاؤ شي کوم چې وائي: يو ځل زهٔ جومات ته تلے ووم، پېزار رانه ورک شو، بس د هغې نه پس هډو تلے نهٔ يم-

لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه! صرف يو ځل په اتفاقي توګه چې نقصان وشو نو جومات ته تلل مو پرېښودل، تاسو د داسې خلقو نه پوښتنه اوکړئ چې وروره! په بازار کښې مو څو ځله نقصان کړے دے؟ کېدے شي چې ډېر ځل مو کړے وي ❀ څهٔ مو واخستل نو نقصان وشو ❀ کله مو په هېره پيسې ډېرې ورکړې، وروستو واپس مېلاؤ نهٔ شوې ❀ کله دکاندار په ناپ

---

1 ...نوادر الاصول، الاصل السابع والسبعون والمائتان فی الحکمۃ فی فتانی القبر، جلد:2، صفحہ:387 ماخوذاً۔

تول کښې کمے اوکړو ❀ کله مو په دوکه نقلي نوټ راوړو، داسې څومره نقصانونه کوو، آیا بازار ته تلل هم پرېږدئ؟ نهٔ یـې پرېږدئ نو جومات ته تلل مو ولې پرېښودل؟ ❀ داسې به هم په زرګونو خلق وي، کوم چې زیرې پرېږدي خو یو نیم ګس ورله په نادانۍ کښې پېغور ورکړي، بس هم د هغې نه مایوسه شي او زیره وخرېوي او د ګناه طرف ته لاړ شي ❀ بعضې په وړو وړو خبرو نفرت شروع کړي، مثلاً ❀ څوک یو زیرې والا یـې په دروغو وغیره وئیلو ولیدو، بس الله مو دې د مُلیانو نه وساتي- اِنسان ترې پوښته اوکړي چې وروره! که د یوې زیرې والا دروغ ووئیل نو آیا ټول داسې شول؟ نهٔ شول- نو تاسو د دې یوې غلطۍ په وجه د دِین نه ولې وروستو کېږئ؟ ❀ ځینې دِیني اِجتماعاتو ته راشي خو نازک مزاجي یـې داسې وي چې که چا دیکه ورکړه، د اوداسهٔ په ځائے کښې اوبهٔ ختمې شوې، په واش رُومز کښې په اوږد قطار کښې ودرېدو، داسې په وړو وړو خبرو باندې نفرت شروع کړي او بیا د نېکو طرف ته راتلل پرېږدي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** لږ غور اوکړئ چې شیطان څومره خبیث دے، دې بد بخته ته معلومه وه چې په انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام باندې د دهٔ هیڅ وَس نهٔ رسي، د دې باوجود چې کله حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام د حضرت اِسماعیل عَلَیْہِ السَّلَام د قربانۍ د پاره مِنیٰ ته روان شو نو دا بد بخته د وسوسې اچولو د پاره راغلو، هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام دے په کاڼو ووېشتو، دے په زمکه دننه شو، بیا راغلو، بیا په کاڼو ووېشتے شو، بیا راغلو، بیا په کاڼو وېشتے شو او په زمکه ننباسلے شو-[1]

تاسو وګورئ چې څومره د ذِلت سره مخ وو، بیا هم نهٔ منع کېدو- بل طرف ته مونږ یو، په معمولي شان خبره باندې د نېکۍ نه وروستو کېږو- **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** یاد ساتئ چې د کامیابۍ موندلو د پاره د دښمن نه خلور قدمه مخکښې اوسېدل پکار وي،

---

[1] ...مستدرک، کتاب الحج، باب رمی الجمار، جلد:2، صفحه:122، حدیث:1756۔

شېطان خبيث چې خومره سرکشه او ضدي دے، مونږ له پۀ نېکو باندې د دې نه 4 چنده اِستقامت اِختيارول پکار دي، بيا به چرته د دې خبيث نه بچ کيږو-

| | |
|---|---|
| نفس و شیطان ہوگئے غالِب | ان کے چُنگل سے تُو چھڑا یاربّ! |
| کر کے توبہ میں پھر گناہوں میں | ہو ہی جاتا ہوں مُبتلا یاربّ! |

## شېطان زمونږ دښمن دے

**اللّٰه** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ (پاره:22، سورۂ فاطر:6)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: بے شکه شېطان ستاسو دښمن دے نو تاسو هُم هغه دښمن وګڼئ-

يعني اے خلقو! د **اللّٰه** پاک پۀ فرمانبردارئ کولو سره د شيطان سره دښمني اوکړئ او د **اللّٰه** پاک پۀ نافرمانئ کښې د شېطان پۀ لاره مۀ ځئ! په هر حال کښې هغه همېشه دښمن ګڼئ! (1)

پۀ يو ځائے کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَ ذُرِّیَّتَهٗۤ اَوْلِیَآءَ مِنْ دُوْنِیْ وَ هُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِیْنَ بَدَلًا ۝۵۰ (پاره:15، سورۂ کَہْف:50)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: نو (اے خلقو!) آيا تاسو هغه او د هغۀ اولاد زما نه سِوا خپل دوستان جوړوئ حالانکې هغوئي ستاسو دښمنان دي، د ظالمانو د پاره څۀ بده بدله ده-

يعني اے خلقو! آيا تاسو شېطان او د هغه اولاد زما نه علاوه دوستان جوړوئ! يعني زما بندګي پرېږدئ او پۀ هغه پسې ځئ--!! حالانکې رښتيا دا دي چې شېطان هم

1... مکاشفۃ القلوب، باب فی عداوۃ الشیطان، صفحہ:69-

او د هغهٔ اولاد هم ستاسو دښمنانان دي- بس شېطان، د هغه اولاد او څوک چې پهٔ هغوئي پسې ځي، ټول ظالـمان دي او ظالـمانو د پاره ډېره خرابه بدله ده- (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! څومره صفا خبره ده، غور اوکړئ چې مونږ ته څومره پهٔ تاکيد سره وئيلے کيږي چې اے خلقو! ❁ د الله پاک محبت ❁ د الله پاک اِطاعت ❁ د الله پاک فرمانبرداري ❁ د الله پاک عبادت ❁ او نيک کارونه مهٔ پرېږدئ او پهٔ شيطان پسې مهٔ ځئ--!! ګني نو شيطان خو پهٔ لعنت او غضب کښې ډوب دے، تاسو به هم د ځان سره ډوب کړي-

| | |
|---|---|
| سلسلہ آہ! گناہوں کا بڑھا جاتا ہے | نِت نیا جرم ہر اِک آن ہوا جاتا ہے |
| نفس و شیطان کی ہر آن اطاعت پر دل | آہ! مائل مِرے اللہ ہوا جاتا ہے |
| المدد یاشہِ اَبرار مدینے والے | قلب سے خوفِ خُدا دُور ہوا جاتا ہے (2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## شيطان ډېر خبيث دښمن دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! شيطان ډېر خبيث دښمن دے- د اِنسان سره دښمني کول، پهٔ يو حالت کښې هم د اِنسان سره دوستي نهٔ کول د شيطان پهٔ فطرت کښې شامِل دي- د دې خبيث بس هم يو مِشن دے، هغه دا چې څنګه هم کېدے شي اِنسان د دوزخ حقدار جوړ کړے شي- پهٔ قرآنِ کريم کښې دي: کله چې شيطان د الله پاک د دربار نه مَردُود شو، هُغه وخت دهٔ د اِنسان سره د دښمنۍ اِعلان اوکړو، دې بد بخته ووئيل:

| | |
|---|---|
| لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ﴿۱۶﴾ ثُمَّ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: زهٔ به ضرور ستا پهٔ نيغه لاره کښې |

---

1... تفسیر قرطبی، پارہ:15، سورۂ کہف، زیرِ آیت:50، جلد:5، جز:10، صفحہ:259 ملتقطاً۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:432 ملتقطاً۔

لَاٰتِيَنَّهُمۡ مِّنۡۢ بَيۡنِ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ اَيۡمَانِهِمۡ وَعَنۡ شَمَآئِلِهِمۡ ؕ وَلَا تَجِدُ اَكۡثَرَهُمۡ شٰكِرِيۡنَ ﴿۱۷﴾ (پارہ:8، سورۂ اعراف:17)

خلقو ته کښېنم- بيا به زۀ ضرور د هغوئي د مخې او د هغوئي د شا او د هغوئي د ښي طرف او د هغوئي د ګڅ طرف نه هغوئي له راځم، او تۀ به د هغوئي نه اکثره شُکر ګزار نۀ مومې-

اَللهُ اَكۡبَرۡ! دا بد بخته باقاعده اِعلان کوي چې زۀ به پۀ صِراطِ مُستقيم (يعنې پۀ نېغه لاره باندې، د نـمونځونو پۀ لاره باندې، د روژو پۀ لاره باندې، د تِلاوت پۀ لارو باندې، د نېکو پۀ لاره) باندې کلک کښېنم او پۀ بندګانو باندې به د مخې نه، د شا نه، د ښي، ګڅ هر طرف نه حمله کووم او هغوئي به دوکه کووم-

مجبوبِ خدا سر پہ اَجل آ کے کھڑی ہے | شیطان سے عطّار کا ایمان بچا لو! (1)

معلومه شوه چې شېطان زمونږ ډېر سخت دښمن دے او هغۀ باقاعده کلکه اِراده کړې ده چې اِنسانان به خامخا دوکه کوي-

## د شېطان جالونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له د شېطان د چلونو نه بچ کېدل پکار دي، دا زمونږ د ټولو نه لوئي دښمن دے، دا هم دښمن ګڼل پکار دي- ظاهره ده چې که چرې مونږ د دۀ پۀ چلونو او جالونو باندې پوهه نۀ شو نو د دۀ د چلونو نه به څنګه بچ کيږو؟ لهذا راځئ چې د شېطان خبيث د څينو جالونو پۀ باره کښې واورو او د هغې نه د بچ کېدو کلکه اِراده اوکړو:

## (1):د شېطان دروازه: د اِستغفار نه غَفلت

حضرت عبد الرحمان بن زياد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: يو ځل حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام تشريف فرما وو، مخامخ يو کَس راروان پۀ نظر راغلو، هغۀ رنګينه ټوپۍ پۀ سر کړې ده،

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:308-

کله چې هغه رانزدې شو نو هغۀ ځغه ټوپۍ د سر نه کوزه کړه، حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام ترېنه پوښتنه اوکړه: تۀ څوک يې؟ هغه ووئيل: زۀ اِبليس يم- وه يې فرمائيل: دا ټوپۍ کومه چې تا پۀ سر کړې وه، دا څۀ دي؟ وه يې وئيل: دا زما ځغه جالونه دي کوم چې د آدم [عَلَیْهِ السَّلَام] پۀ اولاد باندې وراچووم- حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام پوښتنه اوکړه: دا ووايه چې ځغه کومه بدي ده چې کله اِنسان ځغه بدي اوکړي نو تۀ پۀ هغۀ باندې قابو ومومې- شېطان ووئيل: **کله چې اِنسان پۀ ځان خوښې کښې اخته شي (يعنې پۀ خپل ځان باندې فخر او غرور شروع کړي) او خپل ګناهونه هېر کړي، بيا زۀ پۀ هغۀ باندې غلبه حاصلووم-** (1)

**اللّٰه! اللّٰه! خورو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې روايت نه معلومه شوه چې پۀ خود سرۍ کښې اخته کېدل، خپل ګناهونه هېرول هم د شېطان پۀ جال کښې د انښتو ذريعه ده- واقعي چې دا حقيقت دے، کله چې اِنسان خپل ګناهونه هېر کړي نو هغه پۀ خپل ځان باندې غرور شروع کړي او د **اللّٰه** پاک د پټ تدبير نه بے وېرې شي او مطمئين شي، او دا اِطمينان او بے وېرې کېدل ځغه خيز دے کوم چې د شېطان کار اسان کړي- ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ هر وخت خپل ګناهونه مخې ته ساتو-

## ګناه ياد ساتل عبادت دے

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **خپلې نېکۍ هېرول او ګناهونه ياد ساتل عبادت دے-** (2)

افسوس چې دلته د دې اُلټا رواج دے، خلق نېکۍ يادې ساتي او ګناهونه هېروي ❀ يوه ورځ کړي تهجد ياد ساتلے شي خو 50 ورځې قضا کړے شوي نـمونځونه نۀ ياديږي ❀ ځينې خلق ډېر پۀ فخر سره وائي چې دا ځل ما پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې 10

---

1... تنبیہ الغافلین، باب عداوۃ الشیطان ومعرفۃ مکایدہ، صفحہ:346۔

2... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زیر آیت:40، جلد:1، صفحہ:325 ملتقطاً۔

روژې ونيولې، څوک دې دوئي ته ووائي چې ورورہ! تاسو 20 روژې قضا کړې! ❁ پهٔ جومات کښې ورکړے شوې 10 روپۍ يادې ساتلے شي، پهٔ تجارت کښې پهٔ دوکه پهٔ زرګونو ګټلے شوې روپۍ هېرولے شي- **ياد ساتئ** چې دا ډېره د اندېښنې خبره ده، خپل ګناهونه هېرول د شېطان ډېر سخت جال دے- اِنسان خپل ګناهونه هېروي نو شېطان پهٔ هغهٔ باندې غالبه شي- ځکه خپل ګناهونه همېشه ياد ساتئ! دا هُغه ذريعه ده پهٔ کومه چې زمونږ پهٔ زړهٔ کښې غم پېدا کيږي، پهٔ زړهٔ کښې به د **اللّٰه** پاک وېره پېدا شي او مونږ به د رَبِّ کريم د راګېرولو نه پهٔ وېره کېدو توبه هم کوو او بيا د پاره به د ګناهونو نه هم بچ کيږو-

## د ماشومتوب ګناه يــې ياده وساتله

حضرت اِمامِ حَسَن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه کوم چې ډېر لوئي وَلِيُّ الله وو، د هغوئي پهٔ سيرت کښې دي چې د هغوئي نه پهٔ ماشومتوب کښې يوه ګناه شوې وه، حالانکې د نابالغه ماشوم ګناه پهٔ اعمال نامه کښې نهٔ ليکلے کيږي، د دې باوجود هغوئي هُغه ګناه ياده وساتله، د هغوئي عادت مبارک وو چې کله به يــې هم نوې جامې ګنډلې نو پهٔ ګرېوان باندې به يــې هُغه ګناه ليکله، بيا به يــې هغې ته کتل او د شرم نه به يــې اوښکې توئيولې- (1)

اَللّٰهُ اَکۡبَر! څومره نا اشنا انداز دے- مونږ له هم پکار دي چې خپلې غلطۍ، بے خيالۍ او ګناهونه تَل ياد ساتو، هغه رايادوو او د **اللّٰه** پاک د عذاب نه، د هغهٔ د ګرفت نه وېرېږو، چې داسې کوو نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! د توبې توفيق به هم مېلاوېږي او بيا د پاره به د ګناهونو نه د بچ کېدو ذِهن هم جوړيږي-

| | |
|---|---|
| گناہوں کی نحوست بڑھ رہی ہے دم بدم مولیٰ | میں توبہ پر نہیں رہ پارہا ثابِت قدم مولیٰ! |
| گناہوں نے مجھے ہائے! کہیں کا بھی نہیں چھوڑا | کرم ہو از طفیلِ سیّدِ عَرب و عجم مولیٰ! |

---

1... تذکرۃ الاولیاء، جز:1، صفحہ:39۔

| | |
|---|---|
| اندھیری قبر کا احساس ہے پھر بھی نہیں جاتیں | گناہوں کی خدایا عادتیں، فرما کرم مولیٰ! |
| میں رحمت، مغفرت،دوزخ سے آزادی کاسائل ہوں | مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ!(1) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (2):حِرص او حَسَد

روایت دےچې: د طُوفان نُوح پهٔ موقع د **الله** پاک نبي حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام چې کله پهٔ کشتۍ کښې کېناستو نو شېطان خبيث هم غلے پهٔ کشتۍ کښې کېناستو- حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام هغه وليدو نو وه يې فرمائيل: اے د **الله** پاک دښمنه! د دلته نه لاړ شه- شېطان ووئيل: اے نُوح عَلَيْهِ السَّلَام! 5 خيزونه داسې دي پهٔ کومو چې زهٔ خلق ګمراه کووم، درې به تاسو ته ووايم (ما د کشتۍ نه مهٔ کوزوئ)- حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: تهٔ درې پرېږده، باقي دوه چې کوم دي هغه ووايه- شېطان ووئيل: هغه 2 څيزونه د کومو پهٔ وجه چې کله هم زهٔ نهٔ ناکامه کېږم او د هغې پهٔ ذريعه زهٔ خلق تباهۍ ته رسووم- شېطان لَعِين خپل هغه دوه بد ترين جالونه ښودل او وه يې وئيل: (1): پهٔ هغې کښې يو حِرص دے (2): او بل حَسَد دے- (مکاشفة القلوب) (2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نوټ کړئ چې حِرص او حَسَد د شېطان دوه جالونه دي او دا داسې جالونه دي د کومو پهٔ ذريعه چې دا بد بخته اِنسان د ګمراهۍ طرف ته بوځي-

## د حِرص نقصانونه

آه! افسوس چې اوس ډېر خلق پهٔ حِرص او حَسَد کښې راګېر شوي ښکاري ❀ آؤ

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:97-98ملتقطاً۔

2...مکاشفۃ القلوب، باب فی عداوۃ الشیطان، صفحہ:71۔

جي! هم د حِرص په وجه خو د سود لين کيږي ❀ هم د حِرص په وجه مِلاوټ او په ناپ تول کښې د کمي ګناه په سر اخستے کيږي ❀ هم د حِرص په وجه رِشوت عام دے ❀ هم د حِرص په وجه قتلونه کيږي ❀ د خلق اغوا کول کيږي ❀ په لوټې او وړه سطح کچ جرمونه کيږي ❀ رښتيا خبره ده چې د چا وَس کيږي، هغه په حِرص کښې راځي او څهٔ نا څهٔ کوي- زهٔ د ټولو خبره نهٔ کووم، اَلْحَمْدُلِلّٰه! په معاشره کښې ډېر نيکان او پرهيزګاره خلق هم موجود دي، د هغوئي په وجه خو دُنيا اباده ده- البته! د يوې روپۍ نه واخله د کروړونو پورې غلا کوونکي په معاشره کښې موجود دي، د چا وَس چې ډېر نهٔ رسي، هغه په دروغو وئيلو، په دوکه کولو، په ناپ تول کښې په کمي کولو، د ښهٔ وئيلو په نوم خرابه سودا ورکوي او 10، 20 روپۍ په دوکه وهي او د چا چې ډېر وَس رسي، د هغوئي حِساب کتاب خو بيا په کروړونو کښې وي- غرض دا چې زمونږه په معاشره کښې **بے اِيماني دو نمبري**، دروغ او دوکه دومره زياته شوې ده چې هر چا ته معلومه ده او دا ټولې تباهۍ د حِرص په وجه دي- په زړهٔ کښې د پيسې ګټلو، مالداره کيدو او د بينک بيلنس د زياتولو لالچ وي، د دې لالچ په وجه خلق پته نهٔ لګي چې څهٔ څهٔ کوي- خو ياد ساتئ چې **الله** پاک فرمائي:

اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۙ﴿۱﴾ حَتّٰى زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَ ؕ﴿۲﴾
(پاره 30، سورة التکاثر:1-2)

ترجمۀ کنزُالعِرفان: د زيات مال جمع کولو طلب تاسو غافله کړئ- آؤ آؤ، اوس به زر پوهه شئ-

حضرت مُطَرِّف رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د خپل والِدِ محترم نه روايت کوي، هغوئي فرمائي: زهٔ يو ځل دربار رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شوم، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سورۀ اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ تِلاوت کولو، رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِنسان وائي: زما مال! زما مال! اے اِبنِ آدمه! ستا مال هٔغه دے کوم چې تا وخوړو او فنا دې کړو، واغستو او

زورو دې کړو، يا دې صدقه کړو او وړاندې دې ولېږلو- [1]

| | |
|---|---|
| تو نے مَنصَب بھی کوئی پایا تو کیا | گنجِ سیم و زر بھی ہاتھ آیا تو کیا |
| قصرِ عالیشان بھی بنوایا تو کیا | دَبدبہ بھی اپنا دِکھلایا تو کیا |

ایک دِن مرنا ہے، آخر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے، آخر موت ہے

| | |
|---|---|
| عیش کر غافل نہ تُو آرام کر | مال حاصِل کر نہ پیدا نام کر |
| یادِ حق دُنیا میں صبح وشام کر | جس لیے آیا ہے تُو وہ کام کر |

ایک دِن مرنا ہے آخر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے

## حَسَد څۀ ته وئيلے شي ؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حَسَد هم د شېطان ډېر خطرناک جال دے- د حَسَد مطلب دے: د چا نه د نِعمت د تللو ارمان کول يا دا خواهش کول چې فلانکي ته نِعمت مېلاؤ نۀ شي، **حَسَد** دے- [2]

مثلاً: ❀ څوک پۀ مالي توګه خوشحاله ليدل او سوزېدل او ارمان کول چې دے د مال نه خلاص شي ❀ څوک پۀ لويه مرتبه باندې ليدل او پۀ زړۀ کښې سوزېدل او دا ارمان کول چې د دۀ نه څۀ داسې غلطي وشي چې دا مقام او مرتبه د دۀ نه واخستے شي او دے ذليله او رسوا شي ❀ دا خواهش لرل چې فلانکے همېشه تنګدسته اوسي چرې هم مالداره نۀ وي ❀ د فلانکي چرې هم څۀ عزت او مرتبه نصيب نۀ شي هغه تل پۀ ذِلت

---

1... مُسلم، کِتَابُ الزُّہد، صفحہ:1133، حدیث:2958۔
2...الحديقة الندية، الباب الثانى، الخلق الخامس عشر الحسد، المبحث الاول، ٣/٣٤، ملتقطاً.

کښې ژوند تېر کړي، د دې ناوړه خواهش نوم حَسَد دے-

## د حَسَد پهٔ مذمت باندې حدیثونه مبارک

❁ پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: پهٔ تاسو کښې د مخکښېنو اُمتونو بیماري حَسَد او بُغض خور شوے دے، دا خرَوونکې ده، زهٔ دا نهٔ وایم چې دا وېښتهٔ خرېوي بلکې دا دِین خرېوي - [1] یعنې دا بیماری دِین او اِیمان د جرړې نه ختموي کله کله پهٔ بُغض او حَسَد کښې اِنسان اِسلام هم پرېږدي، شیطان هم دې 2 بیمارو وهلے دے- [2]

❁ پهٔ یو روایت کښې دي: اَلْحَسَدُ يُفْسِدُ الْاِيْمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصَّبِرُ الْعَسَلَ یعنې حَسَد اِیمان داسې خرابوي، لکه څنګه چې ایلوا (د یوې ترخې ونې رَس) شات خرابوي- [3] رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَاِنَّ الْحَسَدَ يَاْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَاْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ یعنې د حَسَد نه بچ اوسئ ځکه چې هغه نېکۍ داسې خوري لکه څنګه چې وور وَچ لرګي- [4]

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تکبر، | ریاکاری | و | جھوٹ، | غیبت |
| سے | بھی | اور | حَسَد | سے | بچا | یاالٰہی! |

## (3):تادي هم د شیطان جال دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د شیطان یو جال تادي کول هم دي- تاسو به حدیثِ پاک خو ځله اورېدلے وي: اَلْعُجْلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ یعنې تادي د شیطان د طرف نه ده- [5]

---

1...ترمذی، ابواب صفۃ القیامۃ والرقائق والورع، صفحہ:593، حدیث:2510۔
2...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:615۔
3...جامع صغیر، صفحہ:232، حدیث:3819۔
4...ابوداوٗد، کتاب الادب، باب فی الحسد، صفحہ:769، حدیث:4903۔
5...ترمذی، کتاب البر والصلۃ، باب ماجاء فی التانی والعجلۃ، صفحہ:487، حدیث:2012۔

د دې دا مطلب نۀ دے چې شېطان ډېره تادي کوونکے دے، نا--!! نا! دا خبيث خو ډېر ضدي دے، صِرف د يو اِنسان پۀ بے لارې کولو د دوزخ د حقدار جوړولو د پاره که پۀ کلونو خواري کول وي نو هم يې کوي- د حديثِ پاک مطلب دے چې تادي کول د شېطان وسوسه ده،[1] دا خبيثه اِنسان پۀ تادئ کښې اخته کړي او د ګناهونو ډنډې ته يې وغورځوي-

## اوس د تادئ پۀ ذريعه حمله اوکړه

**روايت دے:** کله چې د **الله** پاک نبي حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دُنيا ته تشريف راوړلو نو د شېطان ټول شاګردان د هغۀ خوا ته راجمع شول او وه يې وئيل: نن څۀ عجيبه واقعه شوې ده، ټولو بُتانو سرونه ښکته کړي دي- دا يې چې واورېدل نو شېطان بهر راووتو، د مشرق او د مغرب چکر يې ولګولو، اخر چې بيتُ المُقدس ته ورنزدې شو نو وه يې کتل چې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دُنيا ته تشريف راوړے دے او فرښتے د هغوئي نه ګېر چاپېره موجودې دي- شېطان واپس د خپلو شاګردانو خوا له لاړو او وه يې وئيل: يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام دُنيا ته تشريف راوړے دے- ځکه به د نن نه پس د خُدائے نه علاوه د بل چا عبادت ختم شي، لهذا د نن نه اِنسانان پۀ جلد بازئ(تادئ) کښې اخته کړئ او پۀ دوئي باندې حملې شروع کړئ--!! [2]

اَللّٰهُ اَكْبَر! معلومه شوه چې کله شېطان مايوسه شي نو بيا د تادئ پۀ لاره باندې حمله کوي، پۀ نورو الفاظو کښې داسې ووايئ چې تادي د شېطان پټه وسله ده، کومه چې دا صرف د ضرورت پۀ وخت راخلي- ځکه مونږ له پکار دي چې د تادئ نه هم ځان بچ کړو- تاسو پۀ حالاتو باندې غور اوکړئ! ❁ خومره داسې خلق دي کوم چې باقاعده د

---

1...مرقاۃ المفاتیح، کتاب الآداب، باب الحذر والتأنی فی الامور، جلد:9، صفحہ:255، تحت الحدیث:5055۔
2...مکاشفۃ القلوب، باب فی عداوۃ الشیطان، صفحہ:72 مفصلاً۔

نـمونځونو کولو د پاره د کورونو نه ووځي، جومات ته ځي، نـمونځونه هم کوي خو پته نهٔ لګي چې پهٔ نـمونځ کښې ورته څهٔ وریادیږي چې پهٔ نـمونځ کښې تادي شروع کړي، د تادۍ پهٔ وجه نهٔ رکوع پوره کوي او نهٔ سجده پوره کوي، نهٔ قومه مکمل کړي، نهٔ پهٔ جلسه کښې صحیح کښېني، بس په یو څو منټو سیکنډو کښې 17 رکعتونه اوکړي او راځي- یعني کړے نـمونځ هم د نهٔ کړي نـمونځ پهٔ شان اوکړي ❀ داسې پهٔ اودس کولو کښې هم تادي کوي ❀ د تِلاوت پهٔ وخت يې هم شېطان پهٔ تادۍ کښې مبتلا کوي او د نېکو نه يې محرومه کوي- غرض دا چې تادي هم د شېطان بد ترینه جال دے، مونږ له د دې نه هم بچ کېدل پکار دي-

## د شېطان نه د بچ کېدو روحاني عِلاجونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د شېطان د یو څو جالونو پهٔ باره کښې مونږه واورېدل ❀ شېطان خبیث د حِرص او د حَسَد پهٔ ذریعه خلق دوکه کوي ❀ پهٔ تادۍ کښې يـې اخته کوي ❀ د ګناهونو نه توجه لرې کوي او د توبې پهٔ لاره کښې خنډان [یعني رکاوټونه] پیدا کوي- ځکه مونږ له د دهٔ د ټولو جالونو نه بچ کېدل او پهٔ نېکو کښې مصروفه کېدل پکار دي- پهٔ اخره کښې راځئ چې د شېطان نه د بچ کېدو د پاره یو څو روحاني عِلاجونه واورو:

کله چې شېطان زړهٔ ته وسوسه واچوي نو (1): اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم لولئ! (2): لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِالله لولئ! (3): د سُوْرَةُ النَّاس تِلاوت کوئ! (4): اٰمَنْتُ بِاللهِ وَرَسُوْلِهٖ لولئ! (5): هُوَ الْاَوَّلُ وَ الْاٰخِرُ وَ الظَّاهِرُ وَ الْبَاطِنُۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ۝ (پاره: 27، سورۀ الحدید: 3) لولئ! (6): سُبْحٰنَ الْمَلِكِ الْخَلَّاقِ، اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍۙ۝ وَّ مَا ذٰلِكَ عَلَى اللهِ بِعَزِيْزٍ۝ (پاره: 13 سورۀ ابراهیم: 19–20) لولئ! (7): سحر او ماښام 21، 21 کرته لَاحَوْل شریف پهٔ اوبو باندې دَم کوئ او څښئ يـې! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د شېطاني وسوسو او د هغهٔ د چلونو نه به مو حفاظت نصیب شي-

صَــلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوت اسلامي د یوې شعبې تعارف : آئي ټي ډیپارټمنټ

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دعوتِ اِسلامي د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم دے، کوم چې د مختلفو شعبو په ذریعه په دِیني او د خیر ښېګړې په کارونو کښې مصروف دے، په دغه شعبو کښې یوه شعبه آئي ټي ډیپارټمنټ هم دے۔

دا شعبه د جدید ټیکنالوجۍ په ذریعه عِلمِ دِین او د نیکۍ دعوت عام کوي۔ اوسه پورې د دې ډیپارټمنټ په ذریعه 55 موبائل ایپلي کېشنز مثلاً ❀ تفسیر صراط الـجنان ❀ فیضانِ حدیث ❀ فتاویٰ رضویه ❀ بهارِ شریعت ❀ اِسلامِک سپیچز ❀ دار الافتاء اهلِ سُنَّت وغیره او 87 اِسلامک ویب سائټس مثلاً ❀ *dawat islami .net* ❀ *dawat islami org* ❀ *ilyasqadri.com* وغیره۔ د دې ایپلي کېشنز او ویب سائټس نه ښځپله هم فائده حاصله کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔ د ایپلي کېشن تعارف پېش کووم۔

## قرآن ټیچر موبائل ایپلي کېشن

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قرآنِ کریم د فیضان عام کولو د پاره دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کېشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټیچر (***Quran Teacher***)۔ په دې ایپلي کېشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فیضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس په شان د بے شمېره آن لائن کورسونو د پاره رجسټرېشن کولے شي ❀ په سټوډنټ پورټل (***Student Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو په باره کښې ځان خبر ساتلے شي ❀ د دعوتِ اِسلامي په دې پلیټ فارم باندې تقریباً 55 اِسلامي کورسونه کولے شي ❀ دا ایپلي کېشن د آن لائن کېدونکو کورسونو په باره کښې معلومات ورکوي تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر یو کورس انتخاب کولے شئ او بغیر د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ۔ دا ایپلي کېشن ډاؤن لوډ کړئ، ښځپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانونه

❁ خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاكره كوي، د راتلونكي خالي په ورځ به هم په مَدَني چينل د ماسخوتن د نمونځ نه پس پاؤ كم لس بجې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاكره كيږي، په كومه كښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم وركوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاكره كښې پخپله هم شركت اوكړي او نورو له دې هم دعوت وركړي ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب وركوي، په راتلونكې هفته واره مَدَني مذاكره كښې به د الله پاک نه وېره په نوم رسالې اعلان كولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب وركړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر كړي! ❁ مكتبة المدينه د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سيرت باندې يو اهم كتاب په نوم د: فيضانِ امامِ اهلسنت چاپ كړے دے- په كوم كښې چې به تاسو د اعلي حضرت ،امام اهلسنت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سيرت او تعارف او د هغوي د ايمان تازه كوونكي زندګۍ واقعات لوستلے شئ دا كتاب د مكتبة المدينه د هرې څانګې نه په 415 روپۍ په بيعه حاصل كړئ- پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب وركړئ!

## د اوليائے كرامو د مزاراتو د حاضرۍ آداب

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ❁ د اوليائے كرامو رَحمةُ اللهِ عَلَيْهِم په مزاراتو حاضري وركول او د هغوئي نه فيض حاصلول د هميشه نه د بزرګانو معمول دے، امام خَلّال رَحمةُ اللهِ عَلَيْه فرمائيلي دي چې: كله هم ما ته څه معامله پيښه شي، زۀ د امام موسیٰ كاظم

رَحمةُاللہِعَلَیْہ مزار ته حاضر شم او د هغوئي وسيله پيش کړم نو **اللّٰہ** تَعَالٰی زما مشکل اسان کړي-[1] ❁ امامِ شافعی رَحمةُاللہِعَلَیْہ فرمائيلي دي چې: کله چې ما ته څه حاجت پيښ شي، نو دوه رکعته نمونځ ادا کړم او د امامِ اعظم ابوحنيفه رَحمةُاللہِعَلَیْہ مزار مبارک ته لاړ شم او دُعا وغواړم، نو **اللّٰہ** تَعَالٰی زما حاجت پوره کړي-[2]

د صفرې په مياشت کښې د داتا علی هجويری رَحمةُاللہِعَلَیْہ او د نورو ډيرو بزرګانو عُرسونه وي، عاشقانِ اولياء په کښې شمير کښې د اوليائے کرامو مزاراتو ته حاضريږي او فيض حاصلوي، مونږ ته هم پکار دي چې د بزرګانو په مزاراتو حاضري ورکوو، اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیْم! د دې به ډير ډير برکتونه حاصليږي - راځئ چې د اوليائے کرامو مزاراتو د حاضرۍ آداب اورو:

❁ په فتاویٰ عالمګيری کښې دي چې: مستحب دا دي چې مزار ته د حاضرۍ نه مخکښې په خپل کور کښې (په غير مکروه وخت کښې) 2 رکعته نفل وکړي، په هر رکعت کښې د سُوْرَۃُ الْفَاتِحَه نه پس 1 ځل اٰیَۃُ الْکُرْسِی او 3 ځله سُوْرَۃُ الْاِخْلَاص ووايي او د دې نمانځه ثواب صاحبِ مزار ته وبخښي، د دې په برکت به **اللّٰہ** تَعَالٰی د صاحبِ مزار په قَبر کښې نُور پيدا کړي او دې (ثواب بخښونکي) ته به ډير زيات ثواب عطا کړي-[3] د اوليائے کرامو مزارونو ته د حاضرۍ نه مخکښې ښۀ ښۀ نيتونه وکړئ! (مثلاً نيت وکړئ چې ❁ خوږ آقا، د مدينې منورې والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د شهدائے اُحُد مزاراتو ته تشريف وړلو، د **اللّٰہ** تَعَالٰی د رضا د پاره دا سُنّت ادا کووم- ❁ د اوليائے کرامو مزاراتو ته حاضريدل د فرښتو صفت دے، د هغوئي نقل کووم- ❁ صاحبِ مزار ته ايصالِ ثواب کولو باندې به

---

[1] ... تاریخ بغداد، جلد:1، صفحہ:133-
[2] ... خیرات الحسان، الفصل الخامس والثلاثون، صفحہ:94-
[3] ... فتاویٰ عالمگیری، کتاب الکراہیۃ، الباب السادس عشر فی زیارۃ... الخ، جلد:5، صفحہ:429-

ثواب ګټم- ۞د صاحبِ مزار نه د فيض حاصلولو د پاره به په ادب سره حاضري ورکووم وغيره) ۞کله چې هم کوم مزار شريف ته حاضر شئ نو د ښپو له طرفه ځئ او کم از کم د 4 لاسه په فاصله سره د هغوئي د مخ طرف ته اودرېږئ- ۞په درميانه آواز کښې داسې سلام عرض کړئ: اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ یَاسَیِّدِیْ وَرَحمَۃُ اللہِ وَبَرَکَاتُہٗ- ۞د صاحبِ مزار د ايصالِ ثواب د پاره 3 ځله دُرُودِغَوْثِيه، 1 ځل اَلْحَمْدشرِيف، 1 ځل اٰيَةُ الْكُرْسِی، 7 ځله سُوْرَۃُ الْاِخْلَاص، بيا 7 ځله دُرُودِغَوْثِيه او که وخت وي نو سُوْرَۂیٰسٓ او سورۂ مُلك هم ولولئ! (که دا نه شئ نو څه هم ذِکر او درود يا د قرآنِ کريم تِلاوت وکړئ او صاحبِ مزار ته يې نذر کړئ!) ۞د خپل کوم چې جائز مراد وي د هغې د پاره، د خپلو عزيزانو او خپلوانو بلکې د ټول اُمّت په حق کښې دُعا وکړئ! او په دُعا کښې د صاحبِ مزار رُوح د **الله** تَعَالٰی په بارګاه کښې خپله وسيله وګرځوئ! ۞د واپسۍ په وخت هم په هُغه شان د صاحبِ مزار په خدمت کښې سلام عرض کړئ! (1)

کرم ہو واسطہ کل اولیا کا | مِرا ایماں پہ مولیٰ خاتمہ ہو

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ

---

1 ...فتاویٰ رضویہ، جلد:9، صفحہ:522بتغیر قلیل۔

اَلْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت په مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځئ چې مونږ هم په شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځئ چې مونږ هم په شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي په هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. (3) راځئ

[1] ... اَفْضَلُ الصَّلَاة، صفحه: 151، خلاصةً۔

[2] ... اَفْضَلُ الصَّلَاة، صفحه: 65۔

[3] ... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانی، صفحه: 277۔

چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي. [1] راځئ چې پهٔ شریکه یـې ووائیو.

### ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ تر مینځه کښینولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم حیران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یـې لوَلي. [2] راځئ چې مونږ یـې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي،

---

1 ... اَفۡضَلُ الصلاة، صفحه:149۔

2 ... قَوۡلُ البَدِیۡع، باب اَوَّل، صفحه:125۔

د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي. (1) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکئ ليکي. (2) راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو- [3] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30-

2...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305-

3...تاريخ ابنِ عساكر، 155/19، حديث:4415